مطبوعاتي اعلاميه

د ۱۳۹۶ د ثور ۱۹مه

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأی اچونې د مرکزونو ارزونه او له نوي سره تعیین پیلوي

پتېیل شوې چې د ټاکنیزو اصلاحاتو یوه مهمه ژمنه ژر ترسره شي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرتابه د ټاکنو د قانون د اوومې مادې پر اساس او تر تخنیکي مطالعاتو وروسته یې د رأی اچونې د مرکزونو لایحه، طرزالعمل او عملیاتي پلان تصویب کړی او د مصارفو فهرست یې د بودجې د برابرولو په مخه حکومت ته سپارلی دی. د بودجې په باره کې تر اطمینان وروسته اوس کمیسیون پربکړه کړې چې د رأی اچونې د مرکزونو د ارزونې بهیر ژر پیل کړي.

د رأی اچونې د مرکزونو د ارزونې هدف د توازن رامنځ ته کېدا؛ د رأی اچونې مرکزونو ته د عوامو لاسرسی او په ښوونځیو او دولتي تأسیساتو کې د دغو مرکزونو ځای پر ځای کېدل دي.

د قانون له مخې، ټولو ټاکنیزو بهیرونو کې د اړوندو ادارو او مراجعو همکاري او ګډون لازم دی. کمیسیون او اړوند ارګونه ټاکنیز بهیرونه په ګډه پیلولی او په بري ترسره کولی شي.

د رأی اچونې د مرکزونو په عملیاتو کې دغه موارد شامل دي: د اړوندو بنسټونو له مسؤولانو سره د همغږۍ غونډې جوړول او د همکاری تفاهمنامې لاسلیکول، له امنیتي سکتور سره همغږي کېدل، د کارمندانو استخدام، د ظرفیتونو لوړول، د عامه پوهاوي څرنګوالی، د عامه پوهاوي د موادو تهیه کول، د موادو انتقال، په ساحو کې عملیات ترسره کول او داسې نور. نو د دغه هر یوه مورد ترسره کول له کمیسیون سره د اړوندو مراجعو همغږي او پرله پسې بشپړې ژمنې غواړي. دغه راز، د ټاکنیزو حوزو تعیین، په ټاکنو کې له ټکنالوژۍ څخه د استفادې تحلیلي طرحه، او د ټاکنو لګښت او امنیت د ټاکنیزو اصلاحاتو له پاره اساسي ژمنې دي چې کمیسیون په دې باره کې هم خپلې طرحې اړوندو مراجعو ته سپارلې دي.

د ټاکنیزو اصلاحاتو له پاره وروستي ګام د رأی ورکوونکیو فهرست برابرول دي چې کمیسیون به دغه پروګرام هم ډېر ژر شروع کړي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنیزو اصلاحاتو پر اساس د رنو او عادلانه ټاکنو د ترسره کولو ژمنه د افغانستان له شریف ملت سره یو ځل بیا نوې کوي.

Independent Election Commission
Paktia Kot, Jalal Abad Road
Kabul, Afghanistan
Tel: (+93) 798191014
Email: info@iec.org.af

کمیسیون مستقل انتخابات
پکتیا کوت - سرک جلال آباد
کابل - افغانستان
تلیفون: 798191014 (+93)
ایمیل: info@iec.org.af